مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزیز نائبي

۲۰۲۶/۰۴/۲۹

# غـــزل

خیالونو کې تېرېږي ستا یادونه غلي،غلي
له سترګو مې ورېږي بارانونه غلي،غلي

ما نه ګڼله دا چې بیا به نه وي دیدنونه
چې بیا کله پېښېږي دیدنونه غلي،غلي

هم ځان ملامت بولم هم پوښتنې لرم ډېرې
فکرونه نه رسیږي کتابونه غلي،غلي

بیا دور شو د پګړیو بیا یې ویره له ټیکریو
پر نجونو ناروا شول سبقونه غلي،غلي

د سرو جنډو کیسې مې اورېدلې، شنې رایادې
اخ! څنګه یې برباد کړل ځو نسلونه غلي،غلي

۲۰۲۶/۴/۲۸



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ